# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**23قوس _سال 1402**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

**عنوان** **صفحه**


کابل کي به زرګونه کورنۍ له ژمنیو مرستو برخمني شي-----------------------------------------------------------1

برای صد ها خانواده در ولایت پروان کمک شد -----------------------------------------------------------------1

بغلان کي څه د پاسه سل بابه رغول شوو سرپناوو د سپارلو لړۍ پیل شوه ------------------------------------------2

41خانواده در ولایت کندز کمک نقدی دریافت نمودند ---------------------------------------------------------------3

د ایران څخه له زرو زیات افغان مهاجر په یوه ورځ کي په خپله خوښه او جبري توګه هېواد ته راستانه شوي -----4

بیش از هزار مهاجر طور جبری ازپاکستان برگشت نمود-----------------------------------------------------------4

برېتانیا: ولسي جرګې روندا ته د کډوالو د استولو لایحه تصویب کړه ---------------------------------------------------4

اینستالیشن هنری در دروازه براندنبورگ به یاد خانواده های از هم جدا افتاده پناهجویان-----------------------------5

# متن کامل اخبار

## کابل کې به زرګونه کورنۍ له ژمنیو مرستو برخمنې شي

د وزارت ویب سایت



دغه څرګندونې د مهاجرینو وزارت د داخلي بېځایه شوو وضعیت ته د رسېدنې رئیس مولوي سردار شیرزاد د مهاجرینو د نړیوال سازمان د بشري مرستو د مرکزي زون له مسؤول ښاغلي محمد عمر هاشمي سره په لیدنه کې وکړې او په راتلونکو ورځو کې یې په کابل کې ۶ زره او ۲۵۰ بېځایه شوو او طبیعي پېښو ځپلو کورنیو ته د ژمنیو مرستو د وېش خبر ورکړ.
د داخلي بېځایه شوو وضعیت ته د رسېدنې رئیس د یادې ادارې له دایمي همکارۍ څخه دمننې تر څنګ وویل: مرستې به په دقیق او شفاف ډول مستحقینو ته ورسوي او غوره بولو چې اجباري راستنېدونکو ته هم دغه ډول مرستې ورسېږي.
ښاغلي هاشمي وویل: په دغه مرستو کې به ۲ کمپلې، د ژمني پوښاک کڅوړه او ۲۰۰ امریکایي ډالر او یا د هغې برابر افغانۍ د وزارت سره په همغږۍ د یاد سازمان له لوري په شفاف ډول په راتلونکې اونۍ کې ووېشل شي.
د کابل ولایت د مهاجرینو چارو د ریاست د داخلي بېځایه شوو آمر حفیظ الله حیدري هم په دغه ناسته کې ګډون درلود هغه وویل:د همکارو بنسټونو د پریکړې له مخې هغه اجباري راستنېدونکي چې د روان میلادي کال په سپټمبر میاشت کې په جبري توګه هېواد ته راستانه شوي وي، دمؤسساتو له لوري به دکابل د ښار په سطحه د ۶ میاشتنیو مرستو له کڅوړو هم برخمن شي

## برای صد ها خانواده در ولایت پروان کمک شد

ویب سایت وزارت



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*




**برای 662 خانواده برگشت کننده ، متضرر  و بی بضاعت در ولایت پروان کمک نقدی و بسته زمستانی به تاریخ 21 قوس توزیع شد.**

**خانواده های مذکور از جانب ریاست امور مهاجرین آن ولایت قبلاً مستحق شناخته شده بودند، مبلغ 14 هزار و 800 افغانی و یک بسته پوشاک زمستانی شامل 18 قلم جنس کمک سازمان بین المللی مهاجرت را دریافت نمودند.**

## بغلان کې څه د پاسه سل بابه رغول شوو سرپناوو د سپارلو لړۍ پیل شوه

د وزارت ویب سایت



د بغلان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د خبر په اساس د لیندۍ په۲۱ مه ۱۰۱ کورنیو ته د ۱۰۱ بابه رغول شوو سرپناوو د سپارلو لړۍ پیل شوه.
یادې کورنۍ له وړاندې دیاد ولایت د مهاجرینو ریاست تر څارنې لاندې د مؤظفو ټیمونو له لوري سروې او په نښه شوې وې.
د یادونې وړ ده چې هر باب سرپناه (شلتر) دوه خونې، یو دهلیز او یو تشناب لري چې د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې له لوري د ۳ زره او ۳۰۰ امریکایي ډالرو په لګښت په پاخه او اساسي ډول رغول شوي دي.

## 41خانواده در ولایت کندز کمک نقدی دریافت نمودند

ویب سایت وزارت



ریاست امور مهاجرین و عودت کننده گان ولایت کندز از توزیع کمک نقدی برای **41** خانواده متضرر و آسیب پذیر درآن ولایت به تاریخ **21** قوس خبرداد.

برای هر خانواده مبلغ **20** هزار و **420** افغانی از جانب شورای مهاجرت ناروی بود که با نظارت ریاست امور مهاجرین آن ولایت توزیع شد.

## د ایران څخه له زرو زیات افغان مهاجر په یوه ورځ کې په خپله خوښه او جبري توګه هېواد ته راستانه شوي

د وزارت ویب سایت

د ایران څخه یو زر او ۵۱۸ تنه افغان مهاجر د لیندۍ په ۲۱ مه د هرات د اسلام قلعې له لارې هېواد ته راستانه شوي.
د اسلام قلعې د سرحدي آمر په خبره په یادو راستنېدونکو کې کورنی او مجردان شامل وو چې له ډلې یې ۳۹۶ تنه د مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان ته ور وپیژندل شول، چې ور سره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستي تر سره شوې.
همدارنګه ۲۷ کورنیو ته ۱۰ زره افغانۍ او ۷۸ تنو ته په وړیا توګه یو یو سیمکارټ په سرحد کې د مؤظفو کمېټو له لوري وېشل شوې دي.
دغه راز ۲۵۱ تنه نور له روغتیایي چوپړتیاوو هم برخمن شوي دي.

## بیش از هزار مهاجر طور جبری ازپاکستان برگشت نمود

ویب سایت وزارت

یک هزار و **200** تن مهاجر طور جبری از مرز های تورخم و سپین بولدک به تاریخ **21** قوس برگشت نمودند.

به اساس معلومات آمریت سرحدی سپین بولدک ولایت قندهار **109** خانواده شامل **662** تن از پاکستان طور جبری عودت نمودند، و بعد ازثبت در ریاست مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی سازمان ملل متحد، سازمان جهانی خوراک و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند، همچنان برای هر خانواده مبلغ **10** هزار افغانی از جانب کمیته موظف نیز توزیع شد.

طبق یک خبر دیگر، به اساس معلومات آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار **108** خانواده که شامل **538** تن بودند، طور جبری از آن طریق به کشور برگشت نمودند

و بعد از ثبت در کمیته های موظف، جهت کمک بیشتر به دفاتر کمیشنری ملل متحد در امور پناهنده گان و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.

## برېتانیا: ولسي جرګې روندا ته د کډوالو د استولو لایحه تصویب کړه

مهاجرنیوز

د برېتانیا ولسي جرګې د سه شنبې په ورځ روندا ته د کډوالو د استولو لایحه تصویب کړه. که څه هم د رېشي سونک حکومت دا یوه تقنیني بریا بولي، خو دغه متن تر اوسه نهایي شوی نه دی.

د برېتانیا پارلمان د سه شنبې په ورځ د ډېسمبر په ۱۲مه په الوتکو کې افریقایي هېواد روندا ته د کډوالو د استولو د نوي قانون مسوده تصویب کړه.

لومړي وزیر رېشي سونک پر خپله ایکس پاڼه ولیکل، دوی اوس هڅه کوي چې «دغه متن قانون ته بدل کړي ترڅو وکولی شي چې روندا ته پروازنه پیل کړي او [د هغو] کښتیو مخه ونیسي» چې کډوال پکې د انګلیس کانال له لارې ځانونه برېتانیا ته رسوي.

**خو دا د لایحې د تصویب په مانا نه ده. اوس باید د مشرانو جرګې استازي پرې بحث وکړي، له هغه ځایه یو ځل بیا ولسي جرګې ته واستول شي او د پاچا منظورۍ ترلاسه کړي.**

**د برېتانیا په ولسي جرګه کې د دې متن په اړه بېلابېل نظرونه شته. د برګزیت پلویانو ډلې استازي مارک فرانسوا ویلي دي چې دوی څکه دا متن نه مني چې ډېر «معتدل» دی.**

**د فرانسې خبري اژانس د لندن د کوین ماري پوهنتون غړي تېم بېل له قوله لیکلي چې «خنډونه ډېر دي» او هېڅ «ضمانت نشته چې له منځه وړل به يې ممکن وي.«**

**د سترې محکمې اندېښنو ته پام**

**وروسته له هغه چې د برېتانیا سترې محکمې روندا ته د کډوالو استول غیرقانوني وبلل، د برېتانیا حکومت د غیرقانوني مهاجرت د مخنیوي په موخه <u>له روندا سره نوی تړون لاسلیک کړ</u> .دغه تړون د سه شنبې په ورځ د ډېسمبر په ۵مه د برېتانیا د کورنیو چارو وزیر جېمز کلېورلي او د روندا د بهرنیو چارو وزیر ونسان بیروتا له خوا پلازمېنه کیګالي کې لاسلیک شو.**

**له دغه تړون مخکې د برېتانیا د کورنیو چارو وزارت په یوه خبرپاڼه کې ویلي وو، دغه هوکړه لیک د سترې محکمې اندېښنو ته پام کوي او اجازه نه ورکوي چې کډوال له روندا سره نورو هېوادونو ته واستول شي.**

**د برېتانیا د سترې محکمې پنځو قاضیانو د نومبر په ۱۵مه د رایو په اتفاق سره د دغه هېواد د استیناف محکمې نظر تایید کړ. د استیناف محکمې د ۲۰۲۳ د جون د میاشتې په ۲۹ له برېتانیا څخه روندا ته د کډوالو استول غیرقانوني بللي وو.**

**دغو قاضیانو وویل، دا خطر شته چې کډوال له کیګالي څخه داسې هېوادونو ته واستول شي چې هلته يې ژوند په خطر کې وي.**

**د افغانانو په ګډون ګڼ شمېر کډوال هڅه کوي چې د انګلیس کانال له لارې ځانونه برېتانیا ته ورسوي. د رسمي شمېرو له مخې، د روان کال له پیل راهیسې تر ۲۹ زره زیات کډوال د انګلیس کانال له لارې برېتانیا ته اوښتي دي چې دا د تېر کال د همدې مودې په پرتله ۳۵ سلنه (۴۴ زره) کموالی ښيي.**

## اینستالیشن هنری در دروازه براندنبورگ به یاد خانواده های از هم جدا افتاده پناهجویان

مهاجرنیوز

**شبکه کمک به کودکان «Terre des hommes»و سازمان حامی پناهجویان «پرو ازول» روز سه شنبه با یک اینستالیشن تعاملی توجه عموم را به سرنوشت خانواده های از هم جدا افتاده پناهجویان جلب کردند .**

**این سازمان های امدادگر اعلام کردند، هدفشان از این اقدام این است که احزاب بر سر قدرت را به یاد وعده الحاق خانواده های پناهجویان بیاندازند. نمایندگان پارلمان آلمان «بوندس تاگ» و رهگذران دعوت شدند که سایه نماهای خانواده های از هم جدا افتاده را که به اندازه های واقعی ساخته شده بودند، به هم برسانند.**

**به گفته مبتکران این کار هنری، حکومت آلمان فدرال در معاهده سال ۲۰۲۱ که احزاب بر سر قدرت به امضا رسانده بودند، الحاق اعضای خانواده ها را تسهیل کنند.**

بیشتر بخوانید :لینا علم: میخواهم از طریق بازیگری، سخنگوی زنان باشم

به گفته آن ها ده ها هزار خانواده که در طول فرار از هم جدا شده اند، به این وعده حکومت آلمان دل بسته بودند.

این دو سازمان در ادامه از این انتقاد کردند که ائتلاف بر سرقدرت ظاهرا حالا که دو سال از آن زمان گذشته است، اجرای وعده اش را به تعلیق درآورده است .آن ها گفتند: «ما از حکومت آلمان فدرال می خواهیم که این وعده درج شده در معاهده حکومت ائتلافی را اجرا کند و الحاق به خانواده را تسهیل کند«.

خبرنامه